**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# اې نتانياهو! له شک پرته چې دا يوازې اسلامي عقيده ده چې ته او ستا ملاتړي يې په وېره کې اچولي يئ!

(ژباړه)

شهيد اتل، ماهر الجازي په خپلې اتلولۍ د فلسطين د سپېڅلې خاورې درې تنه غاصب مجرمين پر هغه لار ووژل، چې د يهودي اشغالگر رژيم له لوري د بې‌غيرته حکامو په همکارۍ او د کفري غربي هيوادونو په ملاتړ اشغال شوې وه. دغې سربښندنې اسلامي امت او نړۍ ته ځو مهم پيغامونه ورسول. په داسې حال کې چې اسلامي امت له دې نه دی خبر چې دغه لاره چې (النبي) نومول شوې، د هغه جنرال په نوم يادېږي چې ويلي و: «اوس صليبي جگړې پای ته ورسيدې.» دغه خبره يې په ۱۹۱۷م کال کې په قدس کې د عثماني پوځونو د ماتې پر مهال وکړه.

له دې وړاندې چې ظالم نتانياهو د شهيد اتل، ماهر الجازي د عملياتو په اړه په اردن کې د خلکو غبرگونونه وگوري، خپل غږ يې اوچت کړ او ويې ويل: «دا يوه سخته ورځ ده او موږ د يوې وژونکې ايډيالوژۍ له لوري چې د ايران د شرارت محور له لوري رهبري کيږي، محاصره شوي يو.» د خلکو پراخو غبرگونونو چې د شهيد اتل په بريا يې خوښي ځرگنده کړه او د هغه پيغامونه يې خلکو ته رسول، د نتانياهو دا ادعا چې د دغه وياړ نسبت ايران ته ورکړي، رد کړه؛ ځکه چې د ايران حکام له نورو بې‌غيرته مسلمانو حکامو سره هيڅ توپير نه لري او د دغه ستر وياړ وړ نه دي.

خو جنايتکار نتانياهو ته زموږ پيغام دا دی چې دغه ورځ ستاسو لپاره يوازينۍ سخته ورځ نه وه؛ بلکې ستاسو سختې ورځې ډېرې شوي دي او موږ تاسو ته زيری درکوو چې په راتلونکو ورځو کې به ستاسو ټولې ورځې د الله سبحانه وتعالی په فضل سره سختې وي. تاسو هغه کسان ياست چې د مسلمانانو پر ځمکو مو تيری کړی دی او زموږ په هره سيمه کې مو بې‌رحمانه وژنې او قتلونه کړي دي.

د شهيد اتل، ماهر الجازي عملياتو د غصب شوې لارې (النبي) نوم په رسنيو کې مطرح کړ؛ تر څو هغه کسان چې دغه لاره يې هيره کړې وه، په ياد راوړي چې د خلافت سيوری له قدس پورته شو او وروسته بيا دغه سيوری له ټولې نړۍ څخه ورک شو. هغه جنرال او د هغه خبره به يې په ياد راوړي چې له هغه وخت راهيسې چې کفري غربي هيوادونو او يهودو د مسلمانانو پر وړاندې دويمه صليبي جگړه پيل کړه؛ هغه جگړه چې لاهم روانه ده او پايله به يې د لومړنيو صليبي جگړو پايلې ته ورته وي. پايله به د اسلامي عقيدې او د هغې د رښتينو پيروانو لپاره

يوه روښانه بريا وي او دغه جګړه هغه قبر دی چې تاسو يې په خپلو لاسونو ځان ته ژوروئ. په دغې جګړه کې به داسې څپې راشي چې بې‌غيرته حکام او د هغوی ملاتړي به د مسلمانانو له سيمو ورسره يوسي او هغه ستر پوځونه چې په يوه لاس کې به يې لاړښود او رڼا ليږدوي او په بل لاس کې به يې پر دښمنانو وېره او لړزه او ستاسې قتل راوړي. په هغه وخت کې به تاسو په ريښتينې توګه سختې ورځې تجربه کړئ او ان شاء الله چې هغه ورځ ډېره نيږدې ده.

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴٦ هـ.ق کال، د ربيع الاول ۱۳مه**

**۲۰۲۴م کال، د سپټمبر ۱۰مه**

**د صدور ګڼه: ۲۰/ ۱۴۴٦**

**ژباړن: اسرار تکل**